پوهنتون
۴ مخ
2 017550 139621

مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ اتمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۸مه | ۵۵۷مه ګڼه

## شېرزی افغان د لوړو زده کړو موسسه

شېرزی افغان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د خپلو محصلینو د ورتیا لوړولو او عملي کار لپاره له درېو کلینیکونو سره هوکړې لاسلیک کړې دي، چې عملاً یې محصلین هلته زده کړې کوي.




# د حکومت له لوري د مفسیدینو پالنه؛

## سیګار: پر لوړو څوکیو په فساد د تورنو کسانو ګومارنه د اندېښنې وړ ده


۳

## کرنې ریاست: په وردګو کې د ۸۲ میلیونو افغانیو په ارزښت ۱۴۰ سړې خونې جوړېږي




د میدان وردګو د کرنې او مالدارۍ ریاست په دغه ولایت کې د کچالو او پیازو د ۱۴۰ سړو خونو د پرانیستل کېدو خبر ورکوي.
د دغه ولایت د کرنې رییس ولید احمد رسنیو ته ویلي چې د دغو سړو سړو خونو پروژه د اسیا پراختیایي بانک د ۸۲ میلیونه افغانیو په ارزښت پلېکېږي. نوموړي دغه راز زیاته کړې چې په دغه پروژه کې ۱۰۹ د کچالو او ۳۱ د پیازو سړې خونې شاملې دي.
د میدان وردګو د کرنې ریاست وایي چې دغه پروژې به د کروندګرو د کروندو په ساتلو او بازار ته د وړاندې کېدو لپاره ګټور او اغېزمن رول ولري. د دغه ولایت د کرنې ریاست د مسوولینو په وینا، په دې سره کروندګر کولای شي د دې پروژې په پلي کېدو خپل ۱٦۳۵ متریک ټنه کچالو او ٦ سوه متریک ټنه پیاز په دې سړو خونو کې زېرمه کړي.

### د امریکایي ځواکونو له وتلو وړاندې یوه ستره اړتیا

۲ مخ

### د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښنې

۲ مخ

### پیامدهای منفی قرض IMF برای افغانستان

۳ مخ

## د واما تازه موندنې: له ۷۰ سلنه ډېر افغانان اوس هم جمهوري نظام غواړي

د واما د تحقیق او نتایجو ادارې د تازه سروې پر اساس، شاوخوا ۷۰ سلنه ګډونوالو د سولې له هوکړې وروسته د جمهوري نظام او مطبوعاتو د ازادۍ غوښتنه کړې ده.
د سولې په اړه د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې له لاسلیک وروسته، واما د تحقیق او نتایجو ادارې(WRRO)، د افغانستان د وضعیت په اړه د افغانانو نظرونه پوښتلي دي او نږدې ۷۲ سلنه ځواب ویونکي د سولې تړون له بشپړ تطبیق وروسته د جمهوري نظام غوښتنه کوي، ۱۹ سلنه خلکو امارت ته رایه ورکړې، ۲،۵ سلنه سلطنت او دغه راز نږدې ۷ سلنه یو بل ډول نظام غوښتی دی.
دغه راز د واما ادارې د معلوماتو له مخې، نږدې ٦۴ سلنه ګډونوالو ویلي، چې د سولې هوکړې د بشپړې عملي کولو لپاره دې اوسنۍ اداره پر خپل ځای پاتې شي، نږدې ۱۸ سلنه نورو بیا ویلي چې اوسنۍ ادارې پرځای دې موقته یا انتقالي اداره دې رامنځته شي.
د دغې سروې د ټولو پوښتل شویو کسانو له ډلې، نږدې ۵۳ سلنه کسانو ویلي چې د سولې د هوکړېله بشپړ تطبیق وروسته دې طالب وسله وال په افغان ملي امنیتي ځواکونو کې مدغم شي.
دا سروې داسې مهال ترسره شوې، چې د امریکا د طالبانو ترمنځ د سولې د تړون له لاسلیک څخه نږدې دوې میاشتې تېرېږي، خو لاهم د سولې بین الافغاني خبرې نه دي پیل شوي او د راتلونکي نظام برخلیک لاهم نه دی په ډاګه شوی.

## تر راتلونکې مني پورې به څلور زره نور امریکایي پوځیان هم له افغانستان څخه ووځي



۵ مخ

## اتحادیۀ اروپا: سطح خشونت موجود در افغانستان، قابل قبول نیست




وزرای خارجۀ اتحادیۀ اروپا گفته اند که سطح خشونت موجود در افغانستان، قابل قبول نیست.
رونالد کوبیا نمایندۀ اتحادسۀ یاد شده در افغانستان در صفحۀ تویتر خود نوشته است، با وجود که تفاهم نامه بین امریکا و طالبان به امضاء رسیده است، اما در این اواخر خشونت ها افزایش یافته است.
به گفتۀ وی، وزرای امور خارجۀ اتحادیۀ اروپا در یک نشست خشونت موجود در افغانستان را نکوهش کرده و به گفتۀ آنها، سطح خشونت ها حاضر قابل قبول آنها نمی باشد.
موصوف می گوید که این سطح خشونت ها پروسۀ گفتگوهای بین الافغانی را با تعویق مواجه خواهد کرد. اتحادیۀ اروپایی پیش از این نیز خواست کاهش خشونت را در افغانستان کرده بود.
این درحالی است که حکومت افغانستان هم هفتۀ گذشته گفته است که از ۱۹ سال گذشته خطرناک ترین هفتۀ ای سفری شد، که در طی آن در یک هفته نزیک به هزار تن از سربازان دولتی و افراد ملکی کشته و زخمی شدند.
این در حالی است که پیش از این هم اتحادیه اروپا خواستار اتش بس دایمی در افغانستان شده است و کمک های شان را با افغانستان مشروط کرده بودند. حکومت افغانستان از این موقف اتحادیه اروپا استقبال نموده بود، اما طالبان آن را با بعضی از بخش های آن مخالفت نشان داده بودند.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ

Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## درېځ

## د امریکايي ځواکونو له وتلو وړاندې یوه ستره اړتیا

امریکايي چارواکي وايي، په افغانستان کې يې د ځواکونو شمېر ۸۶۰۰ ته را ټيټ شوی او پر يو پلان کار کوي چې په راتلونکو څو مياشتو کې څلور زره نور ځواکونه هم له افغانستان څخه وباسي. د سي ان ان د خبر له مخې، د امريکا دفاع وزير دا پلان له ناټو سره هم شريک کړی، چې ژر به وروستی شي. په دې ډول به په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو شمېر ۴۶۰۰ ته را ټيټ شي. له طالبانو سره د هوکړې له مخې، پاتې ځواکونه هم بايد تر راتلونکو لسو مياشتو پورې له افغانستان څخه ووځي.

د امريکايي ځواکونو وتل اوس جدي ښکاري، که پوره وتل په شک کې وي، خو دا ښکاره ده چې دا ځواکونه به تر ټولو کمې کچې ته را ټيټېږي. د امريکايي ځواکونو دا وتل يو ښکاره پيغام لري او هغه دا چې امريکا له طالبانو سره هوکړه تر ډېره عملي کوي يا هم د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره ځواکونه وباسي او يا يې هم کموي. اوس مهمه دا ده چې له امريکايي ځواکونو د پاک افغانستان په اړه فکر وشي او ټولې هڅې پر دې را ټولې شي چې له امريکايي ځواکونو وروسته افغانستان د سولې، امن او ثبات په لوري ولاړ شي. له بده مرغه د دې لپاره کومې پياوړې هڅې او کار نشته. د افغانستان حکومت هېڅ پلان نه لري. ولسمشر غني د دې پر ځای چې پر يوه بنسټيز حل فکر او کار وکړي، وايي چې د امريکايي ځواکونو وتل به تر افغانستان ډېر امريکا ته زيان ورسوي. امريکا پوهېږي چې د ځواکونو وتل يې څه پايلې لري، هغوی به خپل کار کوي، خو د حکومت د مشر په توګه اشرف غني ته پکار ده چې د افغانستان د ګټو په اړه فکر او کار وکړي، نه د امريکايي ګټو او زيان په اړه. امريکايي ځواکونه وځي او د اشرف غني او ملګرو په غوښتنه يې نه پاتې کېږي. اوس نو پکار ده چې د هغوی د پاتې کېدو غوښتنه هېره شي او پر سوله او جوړجاړي تمرکز وشي.

د امريکايي ځواکونو له وتلو مخکې که سوله ونه شي او جګړه دوام وکړي، پايله معلومه ده او هغه دا چې حکومت دوام نه شي کولی. پر دې ولسمشر غني پوهېږي او خپله يې هم دا خبره کړې چې حکومت به يې له امريکايي ځواکونو پرته څو مياشتې دوام وکړي، نو چې کله خبره داسې ده، پکار ده چې اصلي تمرکز پر سوله وشي. د حکومت سقوط او نړېدل د هېچا په ګټه نه دي. آن که طالبان هم له خبرو، پخلاينې او سولې پرته حکومت نيسي او اوسنی حکومت سقوط کېږي، دا حالت د طالبانو په ګټه هم نه دی. له همدې امله نړېدل او سقوط د هېڅ افغان لوري او افغانانو په ګټه نه دي. وېره دا ده چې که د امريکايي ځواکونو له وتلو وړاندې خبرې ونه شي، ښکېل لوري پر يو نظام هوکړه ونه کړي او يو داسې توافق رامنځ ته نه شي چې ټول لوري پکې شريک او خوشاله وي، نو بيا د سقوط او هغه حالت وېره ډېره ده چې هېڅ افغان يې نه غواړي. له همدې امله پکار ده چې ښکېل لوري له اوسني فرصت نه ګټه واخلي. سرې کرښې، خنډونه او شرطونه لرې کړي، خبرې وکړي او يوې هوکړې ته ورسېږي. څومره چې غوره او د افغانانو په ګټه توافق وشي، ښه دی، خو تر سقوط او نړېدو نسبي بد او هغه توافق هم غوره دی چې موږ پکې لږ زيان وکړو او يو څه له لاسه ورکړو؛ ځکه چې په سقوط کې هر څه له لاسه ورکوو.

# د افغانستان اوبه او د ګاونډيانو اندېښنې

لیکنه: عبدالرشید نایل

**پنځمه برخه:**

د ايران د سيستان او بلوچستان ولايت د چاپېريال ساتنې ادارې د چارواکو په وينا، اوسمهال هلمند سيند په ايران کې د کال په اوږدو کې وچ وي او يوازې له فبروري تر اپرېل پورې يوه اندازه اوبه پکې بهېږي. د ساينس مجلې د يوې څېړنې له مخې، د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کې کله چې د مجلې څېړونکي له جريکه بند څخه ليدنه کوله، په سيند کې يو څاڅکی اوبه هم نه وې؛ د سيند په منځ کې ژېړ رېګونه او په غاړو يې د ونو وچې تنې ولاړې وې. د سيستان او بلوچستان ولايت د چارواکو په وينا، د دغه ولايت په دوو ښارونو زابل او زهک کې د څښاک پاکې اوبه له فرامرزي اوبو څخه ترلاسه کېږي او د هامون د وچېدو له کبله اوسمهال په دغو ښارونو کې د څښاک د پاکو اوبو ستونزه هم خورا جدي ده.

د سيستان او بلوچستان د چاپېريال ساتنې يوه چارواکې نيره پورمولايي وايي، که «نيمه څاه‌ګان» هم وچ شي، ټول خلک به کډوالۍ ته اړ شي. څېړنې ښيي، چې د هامون د وچېدو له کبله د ٤٠٠ زره سيستانيانو د معاش سرچينه بنده شوې او په دې سيمه کې بې‌کارۍ، بې‌وزلي، قاچاق او ناامني او د ايران شمال ته د زرګونو سيستانيانو پراخه کډوالي يې له ځان سره لرلې ده. د ايراني چارواکو په وينا د هامون وضعيت د ۱۳۰ زره سيستانيانو د کډوالۍ لامل شوی او دا د ايران ملي امنيت ته ګواښ دی. داسې اټکل کېږي، چې ايران به تر ۲۰۲۵ کال پورې د اوبو د ناسم مديريت، د نفوس زياتوالی او وچکالۍ له کبله د اوبو له جدي کمښت سره مخ شي.

ايرانی لوری د هامون وچېدل په هغه څه پورې تړي، چې د دغه سيند په لوړه برخه (افغانستان) کې ترسره کېږي. د بېلګې په توګه، لامل يې په ۱۹۵۰مو کلونو کې د کجکي بند جوړېدل او په ۱۹۹۰ کلونو کې د اوبو لګونې د کانالونو ايستل بولي او ترڅنګ يې ادعا لري، چې اوسمهال د هامون د وچېدو يو بنسټيز لامل د کوکنارو د کروندو لپاره د هلمند سيند د اوبو ګرځول دي؛ کوم څه چې افغان لوری ردوي او ټينګار کوي، چې عملا له تېرو ٤٠ کلونو راهيسې په سرحدي سيمو کې هېڅ ډول پراختيايي کار نه دی شوی.

د افغان لوري نظر بيا دا دی، چې که څه هم د ۱۹۹۰ لسيزې په وروستيو کلونو کې د ورښتونو له کمېدو او وچکالۍ سره هامون ته د هلمند سيند ورتلونکې اوبه کمې شوې؛ خو بيا هم ايران ته له ترون سره سمې اوبه ورکړل شوې او د هامون د ډېرو برخو د وچېدو اساسي لاملونه د ايران لخوا د اوبو ناسم مديريت، په سوېلي خراسان او رضوي خراسان ولايتونو کې د بېلابېلو بندونو جوړول، د لولې له لارې د سيستان او بلوچستان ولايت مرکز زاهدان ښار او نورو ښارونو ته د اوبو لېږد ، د زابل په څاه‌ګانو (سترو ډنډونو) کې د اوبو زېرمه کول او په زابل کې د کرنيزو موخو لپاره د هامون د اوبو کارول دي.

دا چې افغان لوری ردوي، چې ايران ته د اوبو د حق نه ورکولو له کبله هامون وچ شوی او لامل يې د ورښتونو د کچې بې‌مخينې کمېدل، د تودوخې زياتوالی، اقليمي بدلونونه، د اوبو زياته کارونه او د ايران لخوا د اوبو ناسم مديريت بولي؛ او په بل اړخ کې ايرانی اړخ بيا پړه پر افغانستان اچوي او پرله‌پسې ټينګار لري، چې افغانستان د هلمند سيند د اوبو حق نه ورکوي؛ ځکه نو د هامون د وچېدو لاملونه هم د څېړنو پر ځای د تورونو په کچه کې دي. که څه هم ايران او افغانستان د دغو لاملونو د بشپړ څېړلو هوډ هم کړی، چې د هريرود سيند قضيه به هم پکې شامله وي، مګر تراوسه عملا دا کار نه دی شوی او دواړه لوري پر تورونو، ګواښونو او سياسي فشارونو تکيه کوي.

د هامون د وچېدو ستونزې د هواري لپاره ځينې نړيوالې ادارې هم خپلې حل‌لارې وړاندې کوي. د ملګرو ملتونو د پراختيايي ادارې (UNDP) د «واپس کولو» د طرحې له مخې، د دواړو هېوادونو لخوا هامون ته د اوبو ورکولو لپاره، که د هلمند له اوبو د کرنيزو موخو لپاره لږ اوبه ولېږدول شي او له بلې خوا د کال په وچو مياشتو کې د (نيمه څاه‌ګانو) له زېرمو څخه هامون ته يو څه اوبه ولېږدول شي او ترڅنګ يې دواړه هېوادونه له قطره‌اي اوبو لګونې کار واخلي او د هغو محصولاتو کرلو ته خلک وهڅوي، چې کمې اوبه غواړي، ښايي د هامون د وچېدو ستونزه هواره شي. افغان لوری په دې تړاو وايي، چې شوی ترون سره سم له ايران سره ګډ کار ته چمتو دی؛ خو په دې اړه تراوسه عملي ګامونه نه دي اوچت شوي.

### ب- چاپېريالي او اقتصادي ستونزې

په ټوليز ډول ايران له افغانستانه د ورتلونکو اوبو کمېدل او په ځانګړې توګه د هامونونو وچېدل په دې سيمه کې د اقتصادي پراختيا او پرمختيا لپاره جدي ګواښ بولي او دغه هېواد يې اندېښمن کړی دی؛ خو د اقتصادي اغېزو ترڅنګ، په دې سيمه کې د هامون د وچېدو له کبله د پراخو بيابانونو رامنځته کېدو چاپېريالي ستونزې هم راټوکولې دي. د هامون وچېدو، چې ٤٠٠ زره تنه يې شاوخوا ژوند کوي، په دې سيمه کې د تودوخې درجه هم په بې‌مخينې ډول لوړه کړې ده؛ ځکه تر دې مخکې به پر اوبو لګېدونکو بادونو، په تېره بيا په دې سيمه کې ۱۲۰ ورځې موسمي بادونو د تودوخې کچه راټيټوله. خو اوس دا بادونه د ايران په سوېل ختيزه برخه کې د ګرد او رېګونو د طوفانونو لامل شوي دي.

له مې تر سپټمبر مياشتې په دغو سيمو کې سخت بادونه لګېږي او زهرجن ګرد له ځان سره لېږدوي. د روغتيا د نړيوال سازمان د معلوماتو له مخې، په ۲۰۱٦ کال کې د ايران زابل ښار د هر بل ښار په پرتله زيات ګرد او غبار لرلی دی. د زابل په لوېديځ کې، د يوه مخکېني سيند په غاړه يو پرېښودل شوی (متروک) کلی يې ښه مثال دی، چې کورونه يې اوسمهال تر نيمايي پورې په رېګونو کې پټ دي.

### ج- په افغانستان کې د اوبو مديريت او بندونه

په تېرو څلور نيمو لسيزو کې په افغانستان کې د سياسي او امنيتي ګډوډيو له کبله ايران ته له افغانستانه د ورغلو اوبو دقيقه کلنۍ کچه معلومه نه ده؛ خو بيا هم د افغان چارواکو څرګندونو او ځينو څېړنو ته په کتلو سره، چې مخکې يې يادونه وشوه، ايران په دې موده کې له افغانستان سره له ګډو اوبو تر خپل سهم زياتې اوبه ترلاسه کړې دي او اوس يې هم د تېر په څېر تمه لري؛ خو دا چې له يوې خوا وچکالۍ ټوله سيمه ځپلې او له بلې خوا په افغانستان کې د ملي يووالي حکومت له راتګ سره د تېرو دورو په پرتله د اوبو د مديريت په برخه کې ځينې ګامونه پورته شول، د ايران اندېښنې يې له ځان سره لرلې او ايران وېره لري، چې د هلمند سيند اوبه به د وچکاليو او دغسې پروژو د تطبيق له کبله نورې هم کمې شي. د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو له مخې، افغانستان اوسمهال د ټول هېواد په کچه د ٤٠ بندونو په اړه د څېړنو او جوړولو عملي کار تر لاس لاندې لري، چې يوازې څلور هغه يې له ايران سره پر ګډو اوبو جوړېږي. دا په داسې حال کې ده، چې د اوبو او انرژۍ د پخواني وزير په وينا، ايران له افغانستان سره پر ګډو اوبو بيا ٦۰۰ بندونه جوړ کړي دي.

د ملي يووالي حکومت د بېلابېلو لاملونو له کبله، چې يوه يې هم د اوبو قضيه ده، د کرزي د دورې په پرتله له ايران سره تنې اړيکې لري. د ولسمشر کرزي په دوره کې له ايران سره پر ګډو اوبو د بندونو جوړولو يا ترميم چارو ډېر پرمختګ نه درلود او له همدې کبله داسې تورونه هم شته چې د کرزي په دواړو دورو کې د ايران د خوشحالولو لپاره دا کار وشو، ان تر دې چې له ايران څخه د تورو پيسو د راتګ خبره افشا شوه. ځينې راپورونه دا هم وايي، چې په هلمند، هرات او ورڅېرمه ولايتونو کې د ايران لخوا په پټه ځينو چارواکو ته مالي امتيازونه ورکول کېدل.

په تېره څه باندې يوه‌نيمه لسيزه کې سلما بند يوازېنۍ بېلګه ده، چې پروژه يې بشپړه شوې ده. دا بند د ٦٤٠ مليون متره مکعب اوبو زېرمه لري او په ٦٤٠ کليو کې نژدې ۸۰ زره هکتاره ځمکه خړوبولی شي او ترڅنګ يې د ٤۲ ميګاواټه برېښنا، چې ۲۵۰ زره کورونه روښانه کولی شي، د توليد وړتيا هم لري. خو دا پروژه هم له سختو ننګونو سره مخ وه. د دغه بند طرحه لومړی ځل په ۱۹۷٦ کال کې وړاندې شوه او په ۱۹۸۸ کال کې يې عملي بڼه واخيسته، خو په افغانستان کې د اوږدو جګړو له کبله پاتې وه او د حامد کرزي په دوره کې هم د حکومت د محافظه‌کارۍ له کبله بشپړه نه شوه او بالاخره د ملي يووالي حکومت پر مهال بشپړه شوه.

ايران د سلما بند ترڅنګ، د کمال خان بند د جوړېدو مخالفت کوي. د دغه بند پروژه په ۱۹۹٦ کال کې پيل شوه؛ خو تر ۲۰۱۱ کال پورې د امنيتي ستونزو له کبله کار پرې ونه شو. له همدې کبله افغانستان په ۲۰۱۲ کال کې ايران تورن کړ، چې د سيمه‌ييزو وسله‌والو په ملاتړ کولو سره د دغې پروژې د سبوتاژ کولو هڅه کوي. کمال خان بند د هلمند سيند پر اوبو د نيمروز په چهاربرجک ولسوالۍ کې جوړېږي او افغان چارواکي وايي، دغه بند داسې طراحي شوی، چې د هلمند سيند د اوبو د ضايع کېدو لامل نه کېږي. افغان چارواکي دا هم وايي، چې د دغه بند اوبه به د ايران د پولې په ۱۰۰ کيلومترۍ کې اندازه‌ګيري هم کړي او ايران ته به پوره اوبه رسېږي.

د کجکي بند، چې ايران يې تل د هلمند سيند د اوبو د کمښت يو مهم لامل بولي، که څه هم په ۱۹۵۰ کلونو کې جوړ شوی، خو د ملي يووالي حکومت پر مهال د دغه بند د دويم فاز جوړېدو د قرارداد لاسليک کېدو هم ايران اندېښمن کړ.

دغه راز د فراه د پخواني والي اصف ننګ په وينا، ايران د فراه ولايت د بخش‌آباد بند د جوړولو په چارو کې تخنيکي لاسوهنې کوي، چې له کبله يې په تېرو څو کلونو کې د دغه بند چارې نه دي بشپړې شوې. بخش اباد بند، چې د هلمند د حوزې په فراه‌رود شاخه د فراه ولايت په بالا بلوک ولسوالۍ کې جوړېږي، د ۲۷ مګاواټه برېښنا د توليد او ۲٦ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو وړتيا لري. همدا لامل هم و، چې د افغانستان دفاع وزير هم د فراه جګړه د اوبو جګړه وبلله.

**دوام لري...**


## ګوښه شوي کارکوونکي: احمدي د افغانستان بانک کارکوونکي له دليل پرته ګوښه کوي او پرځای يې غير مسلکي کسان ګوماري

د افغانستان بانک د نوي سرپرست اجمل احمدی له لوري د دغه بانک د مرستيال په ګډون د درې تنو امرينو لرې کېدو پر وړاندې غبرګونونه زيات شوي او ګوښه شوي کسان اجمل احمدي په ناقانونه کړنو تورنوي.

د اجمل احمدي له لوري د افغانستان بانک ګوښه شوی دويم مرستيال او درې تنه امرين وايي، چې دوی تر اوسه نه دي خبر چې ولې يې له دندې ګوښه کړي، خو وايي، چې يو علت يې د اجمل احمدي له لوري په بانک کې د خپلو کسانو ځای پرځای کول دي.

دوی وايي، د افغانستان بانک نوي سرپرست يوه لس کسيزه غير مسلکي ډله له ځانه سره راوستې او دغه کسان د بانک د امرينو راپور اجمل احمدي ته وړاندې کوي او په مهمو ناستو کې برخه اخلي.

دوی د افغانستان بانک نوی سرپرست تورنوي چې نوموړی په سوداګرۍ وزارت کې هم ښه کاري سابقه نه لري، د افغانستان په رسمي ژبو (پښتو او دري) نه پوهېږي او له خپلو کارکوونکو سره تفاهم کې ستونزه لري.



دغه ګوښه شوي کسان وايي چې تر اوسه د دوی د ګوښه کېدو علت او څرنګوالی نه دی روښانه، خو د بانک نوي سرپرست سره له دې چې بانک کې يې پر غير قانوني اقداماتو لاس پورې کړی له خپلو کارکوونکو سره تفاهم کې ستونزه لري.

په ورته مهال د مدني ټولنې غړي د افغانستان بانک سرپرست په توګه د اجمل احمدي ټاکل کېدل او د نوموړي وروستي اقدامات د اندېښنې وړ بولي. د حقوقي چارو شنونکي وايي چې د قانون له مخې، مرستيالان او نور ګوښه شوي کسان تر ګوښه کېدو مخکې د ولسمشر پر وړاندې له خپل ځان څخه د دفاع حق لري چې اوس دغه حق له دوی اخستل شوی دی.

خو د افغانستان بانک وايي، چې د بانک د دويم مرستيال په ګډون څلور تنه لوړپوړي کارکوونکي يې په فساد کې د ښکېلتيا له امله له دندو ګوښه کړي چې ډېر ژر به يې دوسيه لويې څارنوالۍ ته واستوي.

# پیامدهای منفی قرض IMF برای افغانستان

نویسنده: عکاشه نثار

دو هفته قبل، هیئت صندوق بین‌المللی پول قرض ۲۲۰ میلیون دالری به افغانستان را تصویب کرد تا از این کشور در مقابله با پیامدهای اقتصادی پاندمی ویروس کرونا حمایت کند. این پاندمی پیامدهای سختی برای اقتصاد افغانستان خواهد داشت.
صندوق بین المللی پول در سال ۱۹۴۴ میلادی پس از کنفراس «برتنز وودوز» در آمریکا تاسیس شد. این کنفراس همزمان با جنگ جهانی دوم برگزار شد، که در آن ۴۴ کشور شرکت داشتند. هدف ایجاد آن بازسازی اقتصاد آسیب دیده کشورهای اروپایی بیان گردید. البته بعضی از منتقدان می گویند، شرایطی که این سازمان برای ارایه قرض گذاشته بسیار سخت است، بعضی از این شرایط شامل اقداماتی نظیرکاهش مالیات بر فعالیت های تجاری، افزایش سرمایگذاری خارجی و کاهش قرض دولتی میباشد. تعداد کشورهای عضو آن ۱۸۹ کشور بوده حد اکثر قرض ممکن ۱۰۰ میلیارد دالر به کشورهای عضو پرداخت می گردد. سه کار عمده انجام میدهند، تعقیب تحولات مالی و اقتصادی، دادن مشوره به اعضای سازمان و ارایه قرض های کوتاه مدت میباشد.

سوابق قرضه های افغانستان

این قرض صندوق بین‌المللی پول برای رسیدگی به نیازهای عاجل مالی افغانستان مصرف خواهد شد، چونکه مقام‌های افغانستان هزینه‌های اساسی صحی را تقویت کرده و برنامه‌هایی را برای کمک به خانواده‌های شدیداً متاثر شده از این بحران روی دست گرفته اند.
قرض گرفته شده تا ۱۰ سال باید پرداخت شود و نخستین بازپرداخت باید پنج و نیم سال بعد از گرفتن قرضه صورت بگیرد. کریستینا جیورجیوا، مدیر عامل صندوق بین‌المللی پول گفت که تا حالا ۱۰۰ درخواست کمک از سوی کشورهای عضو ارائه شده است و کشورهای در حال توسعه برای مقابله با تبعات اقتصادی پاندمی کرونا به ۲،۵ تریلیون دالر ضرورت دارند.
این در حالیست که افغانستان از قبل بیش از یک میلیارد دالر از دیگر کشورها و نهادهای جهانی بدهکار است، و پرداخت نشده است.
افغانستان در جریان ١٦ سال (١٣٨١ – ١٣٩٧) بیش از یک میلیارد و ۱۹۰ میلیون دالر امریکایی از کشورها و سازمان‌های مختلف جهانی قرض گرفته است.
این قرض ها به هدف تطبیق پروژه های انکشافی به دولت سپرده شده است. طبق گزارشات موجود، تا پایان سال گذشته خورشیدی، تنها حدود ۱۱۲ میلیون دالر از این وام ها به کشورها و سازمان های قرض دهنده برگردانده شده است. از مجموع سود این قرض ها نیز حدود ٦٥ میلیون دالر به قرض دهنده گان پرداخت شده است. به این ترتیب، افغانستان در حال حاضر بیش از ۱ میلیارد و ۷۸ میلیون دالر از این قرض دهنده گان، بدهکار است.
افغانستان در جریان ١٦ سال گذشته از بانک جهانی، صندوق بین‌المللی پول، بانک اسلامی، سعودی فند، بانک انکشاف آسیایی، ایتالیا، بلغاریا، کویت فند و اوپک فند قرض دریافت کرده است. وام تعهد شده بانک جهانی برای نُه پروژه انکشافی در افغانستان نزدیک به ۳۰۸ میلیون دالر بوده است که از این میان نزدیک به شش میلیون دالر آن حذف شده است و دولت افغانستان بیش از ۳۰۱ میلیون دالر آن را مورد استفاده قرار داده است. افغانستان تا کنون نزدیک به نُه میلیون دالر از این وام را به بانک جهانی برگردانده است. سود پرداخت شده این وام نیز بیش از ۷۲۰ هزار دالر اعلام شده است. مجموع قرض تعهد شده صندوق بین‌المللی پول بیش از ١٦٠ میلیون دالر است که دولت افغانستان از بیش از ۱۰۸ میلیون دالر آن استفاده کرده است. نزدیک به ۷۳ میلیون از این قرض دوباره به صندوق بین‌المللی پول پرداخت شده است. ۷۲۰ هزار دیگر نیز به عنوان سود به این صندوق تحویل داده شده است.
در بیست و سومین مجمع عمومی سازمان جهانی سیاحت ملل متحد (UNWTO) از تاریخ ۹ الی ۱۳ سپتامبر ۲۰۱۹ در شهر سانکت پتربورگ روسیه تقاضای هیت افغانی (تحت ریاست دکتور لطیف بهاند سفیر افغانستان در فدراسیون روسیه) پیرامون عفو قروض افغانستان بابت حق العضویت و احیا حقوق و امتیازات عضویت را مورد بررسی قرار داده و تمام قرضداری افغانستان را عفوا، حقوق و امتیازات عضویت افغانستان را طبق احکام اساسنامه این سازمان احیا کرد و نظر به آن قرض ۷۰۰ هزار یورویی افغانستان در سازمان جهانی عفو شد.
بانک اسلامی به پرداخت قرض ۲۲ میلیون و ۴۱۴ دینار اسلامی (رالت عربستان) که معادل حدود ۱۱ میلیون و ۸۱۵ هزار دالر در نرخ کنونی اسعار در سرای شهزاده کابل می‌شود، همچنان دولت حدود 1.5 میلیون دالر از این قرض را دوباره به بانک اسلامی پرداخته است. از سود این قرض ۸۴۴ هزار دالر نیز تأدیه شده است.
مجموع قرض تعهد شده سعودی فند ۳۸۲ میلیون و ۵۰۰ هزار رال عربستان که معادل حدود ۱۰۱ میلیون دالر می‌شود، اعلام شده است که از این میان بیش از ۷۷ میلیون دالر آن مورد استفاده قرار گرفته است. همچنان نزدیک به هفت میلیون دالر از این قرض دوباره به سعودی فند پرداخت شده است. تا هنوز سود این وام پرداخت نشده است.
با این حال اوپک فند هم به پرداخت یک میلیون و ۷۸۱ هزار دالر قرض به دولت افغانستان تعهد کرده است که طبق سند های موجود از تمام این قرض استفاده صورت گرفته است. دولت افغانستان تا کنون ۹۸ هزار و ۹۴۰ دالر از این قرض را به اوپک فند برگردانده است و سود آن که ۱۷۹ هزار و ٦۰۹ دالر گفته شده، نیز پرداخت شده است.
تاکنون کشورها و نهادهای قرضه دهنده بیش از سیزده میلیارد دالر از قرضه های شان را به افغانستان بخشیده است. بزرگترین قرضه افغانستان یازده میلیارد دالر از اتحاد شوروی پیشین بود که از طریق کلوپ پاریس به افغانستان بخشیده شد و گذشته از آن تا کنون بانک انکشاف آسیایی، بانک جهانی، صندوق جهانی پول و ایالات متحده امریکا یک و نیم میلیارد دالر از قرضه های شان را به افغانستان بخشیده اند. بزرگترین قرضهٔ افغانستان که تاکنون بخشیده شده است یازده میلیارد دالر از شوروی پیشین بود که از طریق توسط کلوپ پاریس به افغانستان بخشیده شد.
پیامد های منفی قرض IMF برای افغانستان
در اینکه، استقراض و دریافت قرض از بانک جهانی و صندوق بین‌المللی پول می‌تواند در رشد و شکوفایی اقتصاد یک کشور تاثیر گذار باشد شکی نیست، اما بدیهی است که گرفتن قرض در شرایطی می‌تواند اقدامی موثر باشد که در راه درست و با بازدهی بالا هزینه شود، مضاف بر اینکه مدت زمان بازپرداخت آن نیز با توجه به شرایط و امکانات کشور قرض گیرنده، درست و معقول سیاستگذاری شده باشد.
تجربه دریافت قرض در دولت‌های گذشته نشان می‌دهد اگرچه در برخی موارد قرض های دریافتی در جهت توسعه عمرانی کشور مصرف شده، اما درنهایت بدهی‌های سنگینی را روی دوش دولت‌ها گذاشته است.
در سال ۲۰۲۰ به تاریخ ۲۹ ماه اپریل IMF کمک ۲۲۰ میلیون دالری خود را با افغانستان اعلان نمود، این در حالیست که دولت هنوز از جهت های مختلف قرض دار میباشد، تا سال ۲۰۱۹ مقدار 1.1 میلیارد افغانی با سود 42.9 میلیون قرض خود را پرداخت کرده است. در چنین اوضاع سیاسی و اقتصادی گرچه کشور را در کوتاه مدت کمک میکند، اما در طویل المدت برای پرداخت دوباره به کشور رو به توسعه همچون افغانستان کمرشکن خواهد بود. اکثرا کشورها این قرض ها در پروژه های بنیادی و بزرگ به مصرف میرسانند، و از عواید آن دوباره قرض را باز پرداخت می نمایند، ولی متاسفانه افغانستان نظر به وضعیت که دارد از این قرضه در برنامه های مصرفی خود استفاده می نماید. از دریافت این قرضه های کشورهای موفق بوده می توانند که آن را در پروژه های درآمد زا مصرف می نماید ولی برای افغانستان این قرضه های وابسته گی ایجاد می نماید و یک نوع بار بالای نسل آینده و دولت های آینده خواهد گردید.
اما یکی از پیامدهای خطرناک قرض گرفتن از IMF این است که IMF با پرداخت قرضه میخواهد از کشورها عوض پالیسی های خود پالیسی های این سازمان عملی گردد، آزادی اقتصادی کشورها را گرفته و در موضوعات مالی و پولی کشور مداخله می نمایند. یکی از انتقادهای شدید که بالای صندوق بین الملل وجود دارد همین است که IMF یکی از سازمان های مالی امریکا میباشد که از آن طریق می خواهد در سیاست های اقتصادی کشورهای رو به توسعه مداخله نمایند.
در این زمینه میتواند از تعرفه های مخابراتی و تعرفه های زراعتی نام برد که بنابر شرایط وضع شده IMF تطبیق میگردد و بیان گراین‌ست که مداخلات صندوق بین الملل عملا در افغانستان وجود دارد. در اخیر اخذ هر نوع قرضه برای کشورهای رو به توسعه از صندوق بین الملل پول زمینه را برای مداخلات در امور داخلی ایجاد نموده و وابستگی مداخلات ارزی، پولی، مالیاتی و بانکی را به دنبال دارد.

# د حکومت له لوري د مفسیدینو پالنه؛

## سیگار: پر لوړو څوکیو په فساد د تورنو کسانو گومارنه د اندېښنې وړ ده



سیگار وایي، په افغانستان کې په فساد د تورنو کسانو پر لوړو دندو گومارل د جدي اندېښنې وړ مسئله ده. د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د ځانگړې پلټونکي اداري یا سیگار مشر ویلي، افغان حکومت په دې وروستیو کې داسې کسان پر دندو گوماري چې په فساد تورن دي او تر اوسه یې دوسیې نه دي بشپړې شوې.
سیگار وایي، دا مسئله دوی ته د اندېښنې وړ ده او په افغان حکومت کې د فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د کمزورې ارادې ښکارندویي کوي. تر دې وړاندې ملگرو ملتونو هم په یوه راپور کې ویلي وو چې په افغانستان کې فساد ډېر شوی دی او باید د مبارزې لپاره یې نوې تگلاره جوړه شي.
په افغانستان کې د فساد د موجودیت په اړه د نیوکو په دوام، تازه سیگار وایي چې ولسمشر غني او ډاکټرعبدالله عبدالله د هغو کسانو په گومارلو لاس پورې کړی چې په فساد تورن دي. د دغې اداري په خبره، دا مسئله د جدي اندېښنې وړ ده او په افغان حکومت کې د فساد پر وړاندې د ارادې کمزوري ښیي.
د سیگار مشر جان سوپکو پر هغه څه چې له اداري فساد سره یې مبارزه کې د سیاسي ځېرو خونديتوب بولي اندېښمن دی. هغه زیاتوي، د هغو کسانو له لوري د دولتي ادارو مخته بیول چې تر دې وړاندې یې د فساد دوسیې لرلې، په افغانستان کې له اداري فساد سره په مبارزه کې شاتگ دی.
سوپکو وایي، امریکا تل له فساد سره پر مبارزه ټینگار کړی او افغان حکومت یې هڅولی چې فساد له منځه یوسي، خو اوسني وضعیت ناهیلی کړی دی. د ده په خبره: ((زه لا هم نهیلی کېږم، د رسنیو رپوټونه گورم چې د افغانستان د یوه لوی بانک یعنې کابل بانک د دیوالي یو لوی عامل د یوې اداري د چارو د مخته بیولو لپاره د ارزولو په حال کې دی. که دا خبره سمه وي، له اداري فساد سره په مبارزه کې د شاتگ په معنی ده)).
نوموړی همدا راز وایي، د نړیوالې ټولنې ستر هدف هم دا دی چې په افغانستان کې شته فساد ختم شي؛ ځکه دا د پرمختگ په لار کې یو ستراتېژیک او خطرناک خنډ دی. سوپکو همدا راز وایي، افغان حکومت د فساد او هغو کسانو پر وړاندې د پام وړ اقدام نه دی کړی چې په فساد تورن دي. د نوموړي په خبره: ((لا هم جدي پوښتنې مطرح کېږي چې افغان حکومت په کومه اندازه له اداري فساد سره په مبارزه کې پرمختگ لرلی دی؛ د بېلگې په توگه د فساد په تړاو ٦٥٠٠ د نیولو حکمونه صادر شوي دي، خو افغان حکومت دا ځواب نه شي ورکولای چې څه وخت به دا حکمونه عملي کېږي)).
تر دې وړاندې هم ملگرو ملتونو په یوه راپور کې ویلي وو چې په افغانستان کې د فساد موجودیت لا هم د اندېښنې وړ دی. د ملگرو ملتونو په وینا، په افغانستان کې د فساد کچه مخ پر لوړېدو ده او د فساد د ختمولو لپاره د افغان حکومت طرحې کارنده نه وې. یوناما له افغان حکومت غوښتي وو چې د فساد د ختمولو لپاره باید پر نوو، عملي، دقیقو او اوږدمهاله طرحو کار وکړي. همدا راز د فساد ضد مبارزې په برخه کې فعالو بنسټونو هم غوښتي وو چې په افغانستان کې د فساد د ختمولو لپاره یو مستقل کمېسیون جوړ شي او هغه دې د ملگرو ملتونو له بشپړ ملاتړ برخمن وي. بلخوا د افغانستان د روڼتیا د څار بنسټ وایي، د سیاسي ارادې نشتوالی دد ې سبب شوی چې د فساد قضیې په سمه توگه و نه څېړل شي. د دغه بنسټ په خبره، بله ستونزه دا هم ده چې عدلي او قضایي ادارو خپله خپلواکي په سمه توگه نه ده ساتلې، نو ځکه یې سیاستوالو په چارو کې مداخله کوي. افغان حکومت تر اوسه د دغو ادعاوو په تړاو هېڅ راز غبرگون نه دی ښودلی.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې له لس میلیونو واوښتې، خو په امریکا کې یې ریکارډ جوړ کړ

د تازه شمېرو په مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له لس میلیونو واوښت. دغه راز د یاد ویروس له کبله ۴۹۸ زره او ۹۵۲ کسان مړي شوي او نږدې پنځه نیم میلیونه یې ښېرته رغېدلي دي. د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. امریکایي چارواکي وایي، دغه هېواد په کرونا د اخته کسانو د شمېر له پلوه یو بل ریکارډ جوړ کړ. د امریکایي رسنیو د راټولو شویو شمېرو پر اساس، په امریکا کې ورمه ورځ (جمعې ورځ) څه باندې ۴۰ زره خلک د کرونا په ویروس اخته شوي دي. په یوه ورځ په کرونا د دومره ډېرو کسانو اخته کېدل تر دې دمه د خپل ډول لومړی ریکارډ دی. په دغه ورځ د فلوریډا، جورجیا، جنوبي کارولینا، ټېنیسي او یوتا کې تر نورو ډېر کسان په کرونا اخته شوي دي. په فلوریډا او ټکزاس کې چارواکو اعلان کړی چې ساقي خانې به بېرته تړي او نوي محدودیتونه به لگوي چې د کروناویروس د خپرېدو مخه ونیول شي.
د امریکا مرستیال ولسمشر مایک پېنس د کروناویروس د مخنیوي له ځانگړې ډلې سره په سپینې ماڼۍ کې په یوه خبري کنفرانس کې وویل چې د امریکا په ١٦ ایالتونو کې د کرونا پېښې زیاتې شوې او په ۳۴ نورو ایالتونو کې دا پېښې ثابتې پیدا شوې دي. هغه ویلي، دا ښه خبره ده چې په فلوریډا او ټکزاس کې په کرونا ډېر اخته کسان تر ۳۵ کلونو کم عمر لري چې د پېنس په خبره، د دغه ویروس په ضد یې د بدن مقاومت ښه دی او پایله به یې د اندېښنې وړ نه وي. مایک پېنس ویلي چې فدرال حکومت هڅه کوي په جنوبي ایالتونو کې دا پېښې کمې کړي. هغه له امریکایانو وغوښتل چې د ایالتي او فدرال حکومتونو په لارښوونو عمل وکړي چې د کرونا د خپرېدو مخه ونیول شي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا په یو شمېر ایالتونو کې د کرونا ویروس له کبله لگول شوي محدودیتونه کم شوي، رسټورانټونه، عبادتځایونه، پارکونه او ډېر نور بېرته پرانیستل شوي دي. امریکایي چارواکو دغه رازله خلکو غوښتي چې ماسکونه وتړي او د یو بل ترمنځ فاصلې وساتي. د تازه شمېرو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس د مثتبو پېښو شمېر دوه میلیونه او ۵۷۷ زره او ۸۹۳ ته رسېدلی، دغه راز ۱۲۷ زره او ۹۵۲ نور امریکایان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.

## د کتـاب خبـرې


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارایۍ

### یوولسم څپرکی




د DSA یا مستقیم پلور د ادارې له نظره، هغه خلک چې د بازارموندنې له شبکو سره یو ځای کېږي او ادامه ورکوي، په حقیقت کې له داسې خلکو سره پېژندنه او ملګرتیا پیدا کوي چې د پیسو تر ګټلو هم ارزښتناک دي.
شبکه یي بازارموندنه تاسو ته یوازې ښه تجارتي پوهه نه درکوي، بلکې نوي ملګري هم درکوي چې له تا سره پر یوه لوري روان دي او ګډ ارزښتونه درسره لري.
زما په نظر جان چې په شبکه یي بازارموندنه کې د کومو ملګرو د موندلو خبره کوي، دا ملګري تر تجارتي زده کړې هم ارښتناک دي. دومره ارزښتناک چې هېڅ قیمت یې نشو ټاکلی.
نن زه د پیسو ګټلو په څلورو واړو کونجونو کې ملګري لرم؛ خو هغه اصلي ملګري چې زه ډېر وخت ورسره تېروم او دغه وخت تېرولو ته زیات ارزښت ورکوم، هغه ملګري مې د B او I کونجونو اوسېدونکي یانې تجاران او پانګوال دي.
او هغه ملګري چې ما په زیرکس شرکت کې پرېښې وو، اوس هم زما ښه ملګري دي او تل به زما ملګري وي. ځکه هغوی زما د ژوند د بدلېدلو او انتقال په وخت کې له ما سره وو. هغه زما د پرمختګ وخت و. که اوس ستا د پرمختګ وخت وي او B کونج یانې تجارت کول بلنه درکوي، نو ښایي شبکه یي بازارموندنه پیل کړې او نوي ملګري پیدا کړې.

### دوولسم څپرکی

### ۱۲. څلورمه دارایي: د خپلې شبکې درلودلو وړتیا

یو شی چې د نولسمې پېړۍ په وروستۍ لسیزه کې د دې تجارت د مطالعې پر وخت یې په لټه کې شوم، د «شبکې» کلیمه وه. په یاد مې دي چې زما شتمن پلار هم دې کلیمې ته خورا زیات احترام کاوه.
توماس اډیسن زما د شتمن پلار لپاره یو اتل و. زیات خلک اډیسن د برېښنایي څراغ د مخترع په توګه پېژني؛ خو دا غلطه ده. هغه برېښنایي څراغ نه دی اختراع کړی، بلکې هغه یې غوره او بشپړ کړی دی. ان له هغه څخه یې د پیسو ګټلو لاره موندله.
کله چې اډیسن له ښوونځي څخه وایستل شو (ښوونکو یې فکر کاوه چې دی دومره ځیرک نه دی چې په ښوونځي کې پرمختګ وکړي) نو د اورګاډي پر لارو د مجلو او خوړو شیانو پلور شروع کړ. لږ وروسته یې د خپلې ورځپاڼې چاپ پیل کړ. کال وروسته یې د ورځپاڼې او خوړو د پلور لپاره یوه ډله هلکان و ګومارل. سړی له تنخوا لرونکي کار څخه د شخصي شرکت خاوند شو.
وړتیا په تولیداتو کې نه ده، په شبکه کې ده. که غواړې شتمن شې، نو د پیاوړې، فعالې او پرمختګ کونکې شبکې د رامنځته کولو لاره پیدا کړه.
ځوان اډیسن له ارام او استراحت پرته ورځپاڼه پلورله. د دې لپاره چې د ټلګراف کوونکي دنده ونیسي، د مورس د کوډ استول او را استول یې زده کړل. ډېر زر د خپلې شاوخوا تر ټولو ښه ټلګراف کوونکی شو او دې د میلیونر کېدو لاره ور وښووده. د یوه ټلګراف کوونکي په توګه دې ته متوجه شو چې د بریا سبب یې د کرښو، پایو، ستنو، مسلکي خلکو او خبر خپرولو د سټېشن سیستم دی. دا اصلاً د شبکې وړتیا وه.
که څه هم اډیسن د برېښنایي څراغ په ښه کولو یا په هغه کې د برېښنایي سیم په بشپړلو مشهور دی؛ خو د ده اصلي نابغه توب د برېښنایي څراغ د روښانولو لپاره د سیمانو جوړولو شرکت او په ټولنه کې هغه ته نفوذ پیدا کول وو. د دغه شرکت جوړولو د ده سرمایه څو میلیوني کړه. دغه شرکت جنرل الکتریک نومېده.
د اډیسن په اقتصاد کې بدلون برېښنایي څراغ نه، بلکې برېښنایي سیم او د ریلې خپرولو سټېشن راوست چې په مرسته یې برېښنایي څراغ ته وړتیا ورکول کېده. دا اصلاً «شبکه» وه.
شتمن پلار مې راته ویل:«تر ټولو شتمن خلک شبکې جوړوي او پاتې نور په کار پسې ګرځي.»
د ترانسپورټې بېړیو او د اورګاډي د لارو له مشرانو څخه تر بیل ګېټس، سم والټون او جف بزوس پورې د نړۍ تر ټولو لویې شتمنۍ د هغو کسانو لاسو ته ورغلې چې د بازارموندنې د شبکو په رامنځته کولو پوهېږي. سم والټون شیان نه تولیدول، بلکې خلکو ته د تولیداتو رسولو لپاره یې شبکه جوړه کړه. بیل ګېټس کمپیوټرونه نه جوړول، بلکې هغه اداره کوونکی (اپرېټینګ) سیستم یې جوړ کړ چې په وسیله یې کمپیوټرونو کار کاوه. جف بزوس کتابونه نه چاپول، بلکې د کتابونو د پلورلو شبکه یې جوړه کړه.
وړتیا په تولیداتو کې نه، په شبکه کې ده. که غواړې شتمن شې، نو د قوي، فعالې او پرمختګ کوونکې شبکې د رامنځته کولو لاره پیدا کړه.
**دوام لري...**

# شېرزی افغان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




شېرزی افغان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په ۱۳۹۳ لمریز کال کې له لوړو زده کړو وزارت سره ثبت شوه، خو رسمي چارې یې په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د دوو پوهنځیو (ستوماتولوژي او ښوونې او روزنې) په درلودلو سره پیل کړې. د شېرزي افغان لوړو زده کړو موسسې مؤسس او رییس ډاکټر غلام علي شېرزی وایي، چې د ښوونې او روزنې پوهنځی یې د (کېمیا، بیولوژي، ریاضي، فزیک، پښتو او انګلیسي) ډېپارټمنټونه لري او عملاً محصلین پکې پر لوړو زده کړو بوخت دي. ښاغلی شېرزی وایي چې اوس هم همدغه دوه پوهنځي لري.
شېرزی افغان د لوړو زده کړو په موسسه کې اوسمهال د ۱۴۰۰ په شاوخوا کې محصلین پر زده کړو بوخت دي چې له دې ډلې ۳۶۰ یې په ستوماتولوژي او پاتې نور یې د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلین دي. ډاکټر غلام علي شېرزی وایي چې د محصلینو له ډلې یې ۳۵۰ ښځینه او پاتې نارینه محصلین دي. د لوړو زده کړو د دې موسسې له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه تر اوسه پورې د زرو کسانو په شاوخوا کې محصلین په شپږو دورو کې د لېسانس په کچه فارغ شوي او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې شوي دي. خو له ستوماتولوژي پوهنځي څخه یې یوه میاشت وړاندې لومړۍ دوره محصلین فارغ شوي، چې شمېر یې ۸۹ کسانو ته رسېدو. ښاغلی شېرزی وایي چې په فارغ شویو ۸۹ کسانو کې ۳۳ تنه یې ښځینه او پاتې یې نارینه محصلین وو. د نوموړي په خبره، له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه یې فارغ شوي محصلین خپله په کندوز ولایت او د هېواد په نورو ولایتونو کې د ښوونکو په توګه په دندو ګومارل شوي دي.
په شېرزي افغان لوړو زده کړو موسسه کې د تدریس چارې د ۹۵ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې له دې ډلې ۲۹ ډاکټران په ستوماتولوژي پوهنځي کې د تدریس چارې مخ ته وړي او ٦٦ یې د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې تدریس کوي او ۱۵ نور کسان بیا اداري او خداماتي کارونه مخ ته وړي. یانې په ټوله کې ۱۱۰ تنه د لوړو زده کړو په دې موسسه کې پر کار بوخت دي. ډاکټر غلام علي شېرزی وایي چې د استادانو په ډله کې یې لس سلنه ښځینه او پاتې نوي سلنه نارینه دي. دی وایي، استادان یې تر ډېره د ماسټرۍ او لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د یادولو ده چې په شیرزي افغان لوړو زده کړو موسسه کې د ورځې دوه وخته تدریس کېږي.
د لوړو زده کړو دغه موسسه په کندوز کې له دولتي پوهنتون او په بلخ کې له رهنورد خصوصي پوهنتون سره د علمي اړیکې هوکړې لري. ښاغلی شېرزی وایي چې په تاجکستان کې له ملي پوهنتون سره هم د علمي اړیکو یوه هوکړه لري، چې له مخې یې هغه کسان چې دلته د لېسان په کچه فارغېږي، د ماسټرۍ لپاره دغه پوهنتون ته ور معرفي کوي. دی وایي، هڅه یې دا ده چې په کور د ننه او بهر دواړو کې له لا ډېرو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره د علمي اړیکو هوکړې ولري، تجربې ور سره شریکې کړي، د دوی له تجربو هم ګټه واخلي او په ټوله کې علمي اړیکې ور سره وپالي.
ډاکټر غلامي علي شېرزی د پوهنتون لپاره کتابتون خوار اړین بولي او وایي چې کتابتون د یوه علمي بنسټ د ملا د تیر حیثیت لري. دی وایي، د منځنۍ کچې یو کتابتون لري چې د ۱۲۰۰ په شاوخوا کې بېلابېل کتابتونه پکې موجود دي، خو هڅه کوي چې کتابتون یې ورځ تر بلې غني شي او د محصلینو او استادانو د اړتیا وړ ټول کتابونه پکې ځای پر ځای کړي. دی وایي چې د کتابتون تر څنګ کمپیوټر لب هم لري او په کتابتون کې یې هم ځینې کمپیوټرونه ځای پر ځای کړي او په انټرنېټ سمبال دي. ښاغلی شېرزی وایي، محصلین کولای شي د دوی له انټرنېټ څخه د مطالعې او نورو اړوند مطالبو د پلټلو لپاره ګټه واخلي.
د کتابتون او کمپیوټر لب تر څنګ شېرزی د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د سویې لوړولو او عملي کار لپاره له څلورو کلینیکونو چې درې یې خصوصي او یو یې دولتي دی، هوکړې لري چې له مخې یې د ستوماتولوژي پوهنځي محصلین ور استوي او عملي کار پکې کوي. ډاکټر غلام علي شېرزی چې د دې موسسې مؤسس او مشر دی، خپله خصوصي روغتون لري چې د ستوماتولوژي پوهنځي محصلینو ته یې په دې روغتون کې هم د عملي زده کړو زمینه برابره کړې ده. ښاغلی شېرزی وایي چې په کندوز کې یې له معارف ریاست سره یوه هوکړه لاسلیک کړې ده. دا چې په کندوز کې ډېر ښوونځي موجود دي، نو د ښوونې او روزنې پوهنځي د بېلابېلو ډېپارټمنټونو محصلین د هوکړې له مخې ښوونځي ته ور استوي او د تدریس عملي چارې زده کوي. شېرزی د لوړو زده کړو موسسه د ورزش لپاره هم پراخه ساحه لري.
شېرزی افغان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه په ټوله کې له لومړي سمیسټر نیولې تر وروستي هغه پورې د ښوونې او روزنې او ستوماتولوژي پوهنځي د محصلینو لپاره ۵۰ سلنه تخفیف ورکوي. ډاکټر غلام علي شېرزی وایي، چې د کندوز په کچه ان ویلای شي چې د افغانستان په کچه د دوی موسسه یوازینۍ هغه ده چې په ټولو پوهنځیو کې په دې اندازه تخفیف ورکوي. د دې تر څنګ د شهیدانو او معلولینو د کورنیو د ورثه‌وو لپاره او د هغو کسانو لپاره چې له نورو ولایتونو او لرې پرتو ولسوالیو څخه راځي او دلته زده کړې کوي، له دې هم ډېر تخفیف ورکوي چې ځینې یې ان په وړیا ډول دلته زده کړې کوي.
ښاغلی شېرزی وایي چې د پوهنتون د فعالیت یې دومره موده نه کېږي، نو د لومړۍ دورې د فارغانو لپاره یې ډېپلومونه وېشلي دي. نوموړی وایي، د اسنادو د ورکړې په برخه کې هېڅ ستونزه نه لري، کله چې محصل خپل مونوګراف دفاع کړي، نو پر وخت ورته تحصیلي اسناد سپاري. د نورو خصوصي پوهنتونونو د مسوولینو په څېر ښاغلی شېرزی هم وایي، چې د خصوصي پوهنتونونو شمېر زیات او په لوړو زده کړو وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو د ریاست د کار کوونکو تشکیل لږ دی، نو معلومه خبره ده چې د اسنادو تاییدي یو څه وخت نیسي.
ډاکټر شېرزی د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ کوم توپیر نهویني، خو له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو او په تېره بیا د دې پوهنتونونو محصلینو ته یو څه امتیاز له دې کبله ورکړي، چې دوی په خپل شخصي لګښت زده کړې کوي. نو لازمه ده چې په دندو پیدا کولو کې ور سره مرسته وشي او یا هغو بورسونو کې ونډه ورکړل شي چې افغان ځوانانو لپاره راځي او یوازې اوس د دولتي پوهنتونونو محصلینو ته ور کول کېږي. نوموړی دغه راز وایي چې عامې روغتیا وزارت ورسره په دولتي روغتونونو کې د محصلینو د عملي زده کړو په برخه کې هم چندان همکاري نه کوي، نو په دې برخه کې د لوړو زده کړو وزارت پاملرنه غواړي.
ښاغلی شېرزی وایي، دا چې کندوز د بغلان، بدخشان او تخار ولایت په اصطلاح مرکز بلل کېږي او د دوی موسسې د لوړو زده کړو وزارت ټول ټاکل شوي معیارونه پوره کړي، نو په څلونو یې له لوړو زده کړو وزارت څخه غوښتي چې د معالجوي طب پوهنځی ورته منظور کړي او دغه راز په ښوونه او روزنه کې د شپږو نورو ډېپارټمنټونو اجازه ورکړي، خو تر اوسه یې چا غږ نه دی اورېدلی. دی وایي، لوړو زده کړو وزارت ورته وایي چې د ولسمشر په امر تر امر ثاني پورې په خصوصي پوهنتونونو کې هر ډول نوي اقدامات او منظورۍ منع دي. دی وایي، زه ویلای شم چې د ولسمشر په دې امر یوازې په کندوز ولایت کې ډېر ځوانان له لوړو زده کړو بې برخې کېږي.
د امنیت نشتون په کندوز ولایت کې د محصلینو لپاره تر ټولو لویه ستونزه ده. د شېرزي افغان د لوړو زده کړو موسسې مشر وایي، چې د امنیتي ستونزو له کبله یې محصلین پر وخت زده کړو ته رسیدګي نه شي کولای. شېرزی د دې تر څنګ له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې خصوصي پوهنتونونو ته اجازه ورکړي څو نوي پوهنځي تاسیس او پرمختګ وکړي. دی د لوړو زده کړو وزارت وروستي اقدامات ستایي، خو غوښتنه لري چې دغه وزارت دې پوهنتونونه ارزیابي کړي؛ هغه خصوصي پوهنتونونه چې وړتیا لري، معیارونه یې پوره کړي دي، اجازه دې ورکړي چې نوي پوهنځي تاسیس کړي، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړي او د ماسټرۍ پروګرامونه پیل کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ٤٦٢ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۹,۸۰ |
| £ | ۹۳,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# علت ریزش مو در تابستان و روش‌های پیشگیری از آن

امین همتی

شاید باورتان نشود؛ اما ریزش مو در تابستان شوخی نیست. این را متخصصانی می‌گویند که با تعداد زیادی از بیماران دچار ریزش فصلی مو روبه‌رو هستند. به‌طور طبیعی، موها در دو ماه آخر تابستان بیشتر از مواقع دیگر می‌ریزند. برای همین است که باید در تابستان مراقب موهای خود باشید و نگذارید تابش آفتاب بر پوست سر، وضعیت موهایتان را خراب کند. همچنین توصیه نمی‌شود از مواد شیمیایی مختلف و شامپوهای رنگارنگ برای موهایتان استفاده کنید. یادتان باشد که ریزش مو در تابستان رایج است و شما تنها نیستید؛ پس بهتر است درباره این موضوع اطلاعات بیشتری داشته باشید.

ریزش مو در تابستان بیشتر از فصول دیگر است. از تابستان دوست‌داشتنی انتظار نداشتید که با شما چنین کند؟ درست است که موها در فصلی که برخی معتقدند بهترین فصل سال است، بیشتر می‌ریزند؛ اما جای نگرانی زیادی وجود ندارد. چرا؟ چون این ریزش بیش از آنکه ناشی از طاسی زودرس یا مشکلاتی حل‌نشدنی باشد، به‌واسطه چرخه طبیعی بدن رخ می‌دهد.

فولیکول‌های مویی که در طول سال، سفت‌وسخت به‌عنوان پوسته‌ای دفاعی روی موها قرار داشتند، در تابستان می‌ریزند؛ گویی که موها در تابستان بی‌پناه می‌شوند و در معرض هجوم طبیعت قرار می‌گیرند. فصل ریزش متداول مو در نواحی مختلف دنیا به‌واسطه اوضاع جغرافیایی و چرخه طبیعی بدن افراد متفاوت است؛ مثلا در بیشتر نواحی آمریکا، ریزش مو با شروع خنک‌شدن هوا دیده می‌شود.

واقعیت این است که پوست سر در اوج تابش آفتاب در اواسط تابستان تمام تلاشش را به کار می‌گیرد تا از موها در مقابل نور خورشید محافظت کند؛ اما به نظر می‌رسد جایی در اواخر تابستان، کم می‌آورد و موها شروع به ریزش می‌کنند. البته این روند بسیار طبیعی است. این موضوع طبیعی به جغرافیا وابسته است؛ یعنی بیش از آنکه تغییرات بدنی افراد در ریزش فصلی مو نقش داشته باشد، اوضاع جغرافیایی اثرگذار است.

چطور باید از ریزش مو در تابستان جلوگیری کنیم؟

برای اینکه از ریزش موها در تابستان جلوگیری کنیم، باید هنگام بیرون‌رفتن از منزل، آنها را از نور خورشید بپوشانیم. بانوان که روسری به سر دارند؛ اما آقایان هم باید از کلاه استفاده کنند. فولیکول‌های مو به‌کمک کلاه و روسری پوشانده می‌شوند و آسیب نمی‌بینند.

مصرف ویتامین ها و خط‌کشیدن دور روش‌های جلوگیری از بارداری با قرص‌های خوراکی در کنار دوری از رژیم های غذایی دشوار می‌تواند مانع از ریزش مو در تابستان شود. قرص‌های ضدبارداری و رژیم‌های غذایی باعث نوسان‌های هورمونی می‌شوند و ریزش مو را تشدید می‌کنند؛ پس حواستان را حسابی جمع کنید و دقیق عمل کنید.

در اواخر تابستان احتمال دارد که روزی ۱۰۰ تار مو از سرتان کم شود. برای کاهش این روند، از شانه زدن و شستن زیاد موها با شامپو خودداری کنید؛ چون این کارها ریزش را سریع‌تر می‌کنند و آن وقت است که فکر می‌کنید درحال بی‌موشدن هستید.

موها در تابستان به‌طور طبیعی می‌ریزند؛ پس نگران نباشید و با مراقبت‌های لازم این روند طبیعی را کنترل کنید. یادتان باشد که اگر ریزش موها از ۱۰۰ تار در روز پیشی گرفت، یعنی وضعیت غیرعادی است؛ درغیراین‌صورت مشکل خاصی وجود ندارد. به‌طورکلی متخصصان معتقدند که روند رشد موها در بازه‌ای ۲ تا ٦ساله رخ می‌دهد. تارهای مو به‌مدت چند سال رشد می‌کنند. بعد، روند رشد متوقف می‌شود و موها می‌ریزند تا هم‌تایان جدیدشان جای آنها را بگیرند. زمانی که ۹۰ درصد از موها درحال رشد هستند، باقی موها در مرحله استراحت به سر می‌برند. این مرحله ۲ تا ٦ ماه طول می‌کشد و طی آن موهایی که در مرحله استراحت بودند، دچار ریزش می‌شوند. تیمی از متخصصان پوست و مو درباره روند ریزش فصلی مو تحقیق کرده‌اند. این تیم داده‌های خود را در سال ۲۰۰۴ از طریق پایگاه داده‌ای گوگل ترند (google trend) به دست آورده‌اند. یکی از اقدامات این تیم این بود که میزان جست‌وجوهای کاربران برای عبارت «ریزش مو» را بین ماه‌های ژانویه سال ۲۰۰۴ تا اکتوبر سال ۲۰۱٦ بررسی کردند.

نتیجه‌ها حاکی از آن بود که ریزش مو در فصل‌های تابستان و پاییز بیشتر از زمستان و بهار است. مطالعات بالینی و تحقیقات یادشده بر این ادعا صحه می‌گذارند. نکته جالب‌تر این است که گذر فصل‌ها می‌تواند روی ریزش موی حیوانات هم اثر بگذارد.

پس باید بدانید که ریزش مو در تابستان موضوعی طبیعی است و جای نگرانی ندارد. دانشمندان کشف کرده‌اند که تغییرات فصل در ریزش موها اثر دارد؛ اما همچنان به تحقیقات بیشتری نیاز است تا دیگر عوامل ریزش مو را کشف کنند؛ مثلا باید مشخص شود که تغییرات اشعه ماورای بنفش در ریزش موها اثر دارد یا خیر.

جلوگیری از ریزش مو در تابستان

درست است که موها طی روندی طبیعی در فصل تابستان دچار ریزش می‌شوند؛ اما روش‌هایی هم برای کنترل این چرخه طبیعی وجود دارد. در ادامه با تعدادی از روش‌های جلوگیری از ریزش مو آشنا خواهید شد:

۱.ماساژ پوست سر با روغن نارگیل گرم

روغن نارگیل از کاهش پروتین در موهای سالم و غیرسالم جلوگیری می کند. فرقی نمی‌کند که آن را قبل یا بعد از شستن موها استفاده کنید؛ درهرحال ماساژ موها با آن باعث افزایش گردش خون در پوست سر و رشد بهتر موها می‌شود. می‌توانید اسانس‌ها را هم با روغن نارگیل ترکیب کنید.

پوست سرتان را دست‌کم سه بار در هفته با روغن نارگیل گرم ماساژ بدهید. این کار زیبایی مو و درخشش آنها را زیاد می‌کند. روغن را شب‌ها به موهایتان بزنید و روز بعد آن را بشویید. به‌مرور زمان موهایی درخشان‌تر، پرپشت‌تر و نرم‌تر خواهید داشت.

۲. رژیم غذایی مناسب و آب‌رسانی

تغذیه نقش مهمی در زیبایی و تقویت موها دارد؛ پس اگر می‌خواهید از ریزش مو در تابستان یا هر فصل دیگری نجات پیدا کنید، به غذایتان اهمیت بدهید. رژیم غذایی مناسب باید شامل موادی مانند آهن، روی، ویتامین C، نیاسین، بیوتین، ویتامین D و امگا ۳ و امگا٦ باشد.

البته تحقیقات بیشتری باید انجام شود تا نیاز به این مواد برای تقویت موها را بهتر به ما نشان دهند؛ بااین‌حال مصرف بادام، گردو و مواد غذایی تازه و محلی می‌تواند روی کیفیت موها اثر مثبت داشته باشد. اگر هم فکر می‌کنید که به مصرف مکمل‌ها نیاز دارید، حتما باید درباره این موضوع با پزشک مشورت کنید. هرگز، هرگز، هرگز بی‌مشورت مکملی مصرف نکنید.

کم آبی بدن هم می‌تواند موها را خشک کند و باعث ریزش آنها شود. در تابستان که تعریق بدن افزایش پیدا می‌کند، نیاز به نوشیدن آب هم بیشتر می‌شود. بهتر است دست‌کم ۲ تا ۳ لیتر آب در روز مصرف کنید تا بدنتان را از کم‌آبی دور نگه دارید. مصرف میوه ها و سبزیجات پرآبی مانند خیار، گوجه فرنگی و هندوانه هم بدنتان را مرطوب نگه می‌دارد.

۳. استفاده از آب آلوئه‌ورا

سال‌هاست که از آلوئه‌ورا برای درمان مشکلات مختلف و جلوگیری از ریزش مو در تابستان و مواقع دیگر استفاده می‌شود. نوشیدن آب آلوئه‌ورا موهایتان را از درون تقویت می‌کند. مصرف ژل این ماده و ماساژدادن موها و پوست سر با آن هم مفید است. ژل خام را از فروشگاه‌ها تهیه کنید. استفاده از برگ آلوئه‌ورا و خارج کردن ژل موجود در آن هم مفید است.

استفاده منظم از آلوئه‌ورا می‌تواند موهای خشک و آسیب‌دیده را درمان کند. این ماده مفید خواص ضدویروسی و ضدمیکروبی هم دارد و به همین خاطر می‌تواند مشکلاتی مانند شوره سر را هم با آب‌رسانی به مو رفع کند.

۴. استفاده از نرم‌کننده‌های مناسب

مواد گوناگونی وجود دارند که مانع از ریزش مو می‌شوند. کافی است آنها را بشناسید و باهم مخلوط کنید تا به بهترین ترکیب ممکن برسید؛ مثلا می‌توانید دو عدد تخم مرغ را با ۲ قاشق غذاخوری سرکه سیب مخلوط کنید. یک قاشق غذاخوری روغن زیتون و نصف قاشق غذاخوری عسل هم به این ترکیب اضافه کنید و همه را به‌خوبی هم بزنید. خمیر به‌دست‌آمده را روی پوست سرتان بمالید. بعد از ۲۰ دقیقه، سرتان را با آب ولرم آب بکشید.

تخم‌مرغ حاوی مقدار زیادی پروتین است و می‌تواند به جلوگیری از ریزش موها و نیز تقویت آنها و افزایش رشدشان کمک کند. روغن زیتون در افزایش استحکام موها نقش دارد و عسل هم موها را درخشان و نرم می‌کند. سرکه سیب نیز PH موها را کاهش می‌دهد و درخشش و استحکام موها را بیشتر می‌کند.

۵. دوری از گرما و حرارت‌دادن زیاد به موها

اگر موهایتان را دوست دارید، حتما باید آنها را از حرارت زیاد و مستقیم دور نگه دارید. استفاده زیاد از سشوار، اتوی مو و وسایل حرارتی دیگر باعث نازک‌شدن و تخریب موها می‌شود. وسایل حالت‌دهنده به مو را روی حالت کم‌حرارت تنظیم کنید تا موهایتان آسیب نبینند. قبل از حرارت‌دادن به موها هم از اسپری‌های محافظ مو استفاده کنید.

بافتن موها قبل از خواب یا پوشاندن موها در آفتاب هم از روش‌های دیگر حفاظت از موها هستند. به موارد زیر هم برای جلوگیری از ریزش مو در تابستان دقت کنید:

پوست سرتان را خشک و تمیز نگه دارید؛

موها را سه بار در هفته با شامپوهایی عاری از سولفات و پارابن بشویید؛

قبل از بستن موها صبر کنید خودشان بی‌دخالت سشوار خشک شوند؛

پوست سرتان را تمیز نگه دارید و نگذارید که عرق و گردوغبار روی آن جا خوش کنند؛

موهایتان را جلوی پنکه و کولر یا به‌طورکلی باد سرد خشک نکنید، چون دراین‌صورت پوست سر هم خشک می‌شود؛

با ورزش کردن و انجام‌دادن تمرین‌های یوگا اجازه بدهید که گردش خون در پوست سرتان بیشتر و تندتر شود و رشد موها را هم افزایش بدهد.

# امریکايي رسنۍ: تر راتلونکي مني پورې به څلور زره نور امریکايي پوځیان هم له افغانستان څخه ووځي

په افغانستان کې ۸ زره او ٦۰۰ ته د بهرنیو ځواکونو د شمېر د کموالي په تړاو د امریکا د مرکزي قوماندانۍ د مشر کنټ مککنزي تر څرګندونو وروسته، متحده ایالتونه اوس د څلور زرو نورو سرتېرو د کمولو پر پلان کار کوي.

سي اېن اېن امریکايي ټلوېزیون د دغه هېواد دوو چارواکو له قوله لیکلي چې د ولسمشر ټرمپ اداره پر دې پلان کار کوي چې په راتلونکو څو میاشتو کې له افغانستان څخه څلور زره نور سرتېري هم وباسي.

د راپور له مخې، دا پلان تر اوسه نهایي شوی نه دی، خو د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر له ناټو او نورو متحدانو سره د دغه پلان په تړاو خبرې کړې دي.



د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ هم ورمه ورځ له مارک ایسپر سره د خبرو پرمهال وویل چې د افغانستان په تړاو يې خبرې رواني کړې او د سرتېرو د شمېر کموالی به د امریکايي سرتېرو په تناسب وي.

سټولټنبرګ زیاته کړې: «موږ د افغانستان په اړه ارزوني پیل کړې دي، ناټو د سولې له هوکړې څخه د ملاتړ په هدف د خپلو سرتېرو شمېر د امریکايي سرتېرو په تناسب کموو. دا کار به په پوره همغږۍ د ناټو غړو هېوادونو له لوري ترسره شي.»

په ورته وخت کې ولسمشرۍ ماڼۍ وايي چې دا مهال په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو شمېر ۸٦۰۰ تنو ته رسیږي او د دغو سرتېرو په شمېر کې کموالی او زیاتوالی د افغانستان شرایطو او د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه کې د طالبانو تعهد پورې تړاو لري.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې هوکړې پر اساس ټاکل شوې په ۱۴ میاشتو کې ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي.

د سي اېن اېن د خبر له مخې، له افغانستان څخه د څلور زرو نورو سرتېرو په وتلو سره به په دغه هېواد کې د بهرنیو سرتېرو شمېر ۴ زره او ۵۰۰ ته را ټیټ شي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME STAY SAFE
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ اتمه | د ۲۰۲۰ د جون ۲۸مه | ۵۵۷مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۳ | ماسپښين ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:٤٤ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ



تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې له لس میلیونو واوښتې، خو په امریکا کې یې ریکارډ جوړ کړ
۳

## فرانسه: په ایران کې د اوکراین د ویشتل شوې الوتکې د تور بکس تخنیکي کار راتلونکې اونۍ پیلوو

د فرانسې د هوايي پېښو د څېړنو اداره ويلي چې په ایران کې د اوکراین د ویشتل شوې مسافر وړونکې الوتکې د توربکس په اړه به تخنیکي کار راتلونکې اونۍ پیل شي. دا په داسې حال کې ده چې د اوکراین د نړیوال هوايي پرواز ۷۵۲ د پیلوټ د خونې معلومات او غږونه وروسته له هغې د نړیوالو تر منځ د بحثونو موضوع شوه چې د جنورۍ په اتمه د ایران هوايي ځواک یاده الوتکه وویشتله او ټول ۱۷٦ مسافر یې پکې ووژل. د راپورونو له مخې، د اوکراین پلازمېنې کییف ته روانه الوتکه له تهران هوايي ډګره له پورته کېدو یو څو شېبې وروسته وویشتل شوه. ایران ژر د دې پېښې مسوولیت ونه مانه، خو څو ورځې وروسته یې ومنله چې دا یوه تېروتنه وه. دا پېښه څو ساعته وروسته له هغه وشوه چې د ایران وسله والو ځواکونو په عراق کې د امریکا پر نظامي اډه هوايي حمله وکړه. ایران دا حمله د هغې پېښې په غبرګون کې کړې وه چې پکې د امریکا د بې پیلوټه الوتکې په هوايي حمله کې بغداد ښار ته نږدې په یوه هوايي اډه کې د ایران د قدس ځواکونو قوماندان جنرال قاسم سلیماني ووژل شو. د یادونې ده چې ایران د جون په ۲۲مه وویل چې د الوتکې تور بکسونه به په راتلونکو څو ورځو کې فرانسې ته ولېږي.

## د پاکستان حکومت ۱۴۱ پیلوټان د جعلي اسنادو له کبله له پرواز بند کړي دي



د پاکستان ملي هوايي شرکت د نړۍ د هوايي چلند د نظم او مصونیت ادارې او په دغه هېواد کې بهرنیو سفارتونو ته ویلي، هغه ۱۴۱ پیلوټان یې له پرواز کولو بند کړي چې شک کېږي د پیلوټۍ اسناد یې جعلي دي. د پاکستان د ملي هوايي شرکت وياند ویلي چې یادې شوې ادارې او سفارتونو ته یې یو رسمي لیک استولی او هغوی ته یې له دې پلوه ډاډ ورکړی دی. په پاکستان کې د یو شمېر پیلوټانو د اسنادو په اړه له هغه وروسته بحثونه وپارېدل چې د دغه هېواد د هوايي چلند وزیر غلام سرور خان ورمه ورځ وويل چې حکومت له یوشمېر هوايي شرکتونو غوښتي چې ۲٦۲ پیلوټانو ته د پرواز اجازه ورنه کړي. چارواکي وایي، د دغو پیلوټانو د اسنادو په اړه پلټنې پیل شوې دي. د هوايي چلند وزیر غلام سرور خان ویلي چې په دغه کار سره د نړۍ د هوايي چلند د نظم او مصونیت ادارې او نړیوالو ته دا ډاډ ورکول کېږي چې شته اندېښنې جدي ګڼل شوي او مشکلات به حل شي. په اصل کې د پیلوټانو د جعلي اسنادو قضیه تېره میاشت د «پي آی اې» شرکت د یوې الوتکې له غورځېدو وروسته پیل شوه. په دغه پېښه کې شاوخوا ۹۷ کسان مړه شول. د دغې قضیې د پلټنو په لومړیو راپورونو کې ویل شوي وو چې پیلوټان د الوتنو د معیار او اصولو په پلي کولو کې پاتې راغلي دي. د «پي آی اې» هوايي شرکت د امریکا، برېتانیا او اروپا په ګډون د نړۍ یو شمېر هېوادونو ته پروازونه کوي.

## میک: نبود سیستم‌های نظارتی فساد در گمرک‌ها را افزایش داده‌است




مسؤلان کمیتهٔ نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد، با نگرانی از مشکلات بیش ازحد در وزارت مالیه، به‌ویژه در گمرک‌ها، می‌گویند که نبود اصلاحات در وزارت مالیه به سردرگمی‌های کنونی در گمرک‌ها پیوند دارند. آنان می‌گویند که مداخله زورمندان از یک‌سو و نبود سیستم‌های نظارتی از درآمدهای ملی از سوی دیگر، زمینه‌ها را برای فساد گسترده در وزارت مالیه فراهم ساخته‌اند. میوند روحانی، رئیس دارالانشاء کمیتهٔ مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری گفت: «وجود کمیشن کاران و مدیریت ضعیف زمینه را برای فساد فراهم کرده‌است. مداخله زورمندان در امور وزارت مالیه باعث شده که در گمرک‌ها عواید به‌گونهٔ درست گردآوری نشود.» در عین حال شمروزخان مسجدی، سخن‌گوی وزارت مالیه اما بر اصلاحات در این وزارت تأکید دارد و می‌گوید که در این بخش کارها آغازشده‌اند: «در بخش مالیات هم ما [اصلاحات] را شروع کرده‌ایم. در سطح وزارت بست‌ها را در رقابت گذاشته‌ایم تا افراد سالم گماشته شوند... به اصلاحات این‌گونه دید داریم که اصلاحات هیچ وقت متوقف نمی‌شود.» همزمان با نشر گزارش‌ها از افزایش بی‌پیشینهٔ فساد اداری و بی بندوباری‌ها در گمرک‌های کشور، اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری می‌گویند که اوضاع کنونی در گمرک‌ها و حیف‌ومیل درآمدها به اقتصاد کشور بسیار زیانبار خواهند بود. یونس مهمند، معاون تجارتی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری گفت: «در هژده سال گذشته حکومت موفق نشده که برای گردآوری عواید حتا در یک گمرک اسکنر نصب کند... عدم وجود سکنر، عامل اصلی فساد است.» این در حالی است که اخیراً ٦٨ تن از کارمندان وزارت مالیه از سوی رئیس‌جمهور ممنوع‌الخروج اعلام شدند.

## ژوند

## شکر څه ډول ناروغي ده؟




ډیابېټ یا شکر ناروغي بېلابېلې بڼې لري، چې ځینې یې په ورځنۍ ډول د درمل په کارولو سره کنټرولېږي. خو هغه کسان چې د دې ناروغۍ پرمختللې بڼه لري، هغوی بیا د ستنو له لارې انسولین اخلي او خپل ورځنی ژوند مخ ته بیایي. کله چې موږ غذایي مواد خورو دا غذایي مواد د هاضمي سیستم په وسیله هضمېږي او د تېزابو(انزایم) په وسیله په بدن کې په خوږو موادو (ګلوکوز) بدلېږي. دا خواږه مواد د وینې د جریان په وسیله د بدن ټولو برخو ته د اړتیا په اندازه رسېږي. د شکرې په ناروغۍ کې اصلي ستونزه ټوله د انسولین په هورمون کې ده. که انسان په یوه ځل هر څومره زیات خواږه مواد وخوري ستونزه نه ورته پېښېږي، ځکه که یې د پانقراس غده سالمه وي او د اړتیا وړ انسولین تولید کړي، په وینه کې اضافي خواږه مواد له منځه وړي. کله چې د انسان په بدن کې د پانقراس غده خپله دنده سمه پر مخ نه شي بېولی، هغه ده چې په وینه کې د شکرې اندازه زیاتېږي او انسان د شکرې پر ناروغۍ اخته کېږي. ناروغ ژر ژر تږی کېږي او ژبه یې وچه وي، د خالي ادرار لپاره ژر ژر تشناب ته ځي، د سترګو دید یې کمزوری کېږي او شیان یو ډول خړ ورته ښکاري، وزن یې ورځ تر بلې کمېږي او بدن یې د ناروغیو پر وړاندې مقاومت له لاسه ورکوي. دغه راز په ارثي ډول هم دغه ناروغي پیدا کېدای شي چې د کورنۍ هر غړی بیا خپله ونډه پکې لري. د بېلګې په توګه، که پلار د شکرې ناروغي ولري، ٦ سلنه امکان شته چې اولاد یې هم پرې اخته شي. که یې وړور پرې اخته وي د بل وړور د اخته کېدو چانس یې ۵ سلنه دی، خو که مور او پلار دواړه شکر ناروغي ولري، بیا ۳۰ سلنه د دې امکان شته چې اولاد یې هم پرې اخته شي.





ماسټر ډېبټ کارټ

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515